# په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه تازه معلومات:

جولای – سپتمبر ۲۰۲۳

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو
مرستندویه ماموریت

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه دغه تازه معلومات چې د ۲۰۲۳ کال[۱] له جولای څخه تر سپتمبر پورې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له حکم سره سم د یوناما د بشري حقونو د خدمتونو د څارنې پر بنسټ ترسره شوې.[۲]

د اګست او سپتمبر په میاشتو کې، یوناما د تیر حکومت د چارواکو او د پخوانیو امنیتي ځواکونو د غړو په وړاندې د بشري حقونو د سرغړونو او له بندیانو سره د چلند په اړه دوه موضوعاتي راپورونه خپاره کړل (د دواړو راپورونو په اړه په مفصل ډول لاندې بحث شوی). د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د شورا له A/HRC/RES/51/20 پرېکړې لیک سره سم په سپتمبر کې په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه مهالنی راپور خپور کړ. دغه راپور یو لړ موضوعات لکه: د عدالت پلې کول، هغه پالیسي ګانې چې له بشري حقونو د خلکو برخمن کېدل محدودوي او د ژوندانه، آزادۍ او شخصي امنیت له حق څخه سرغړونې، تر پوښښ لاندې نیسي.

## په کار کې د ښځو ګډون

برحاله چارواکو د ښځو پر سنګارتونونو د هغه بندیز تطبیقول پیل کړل کوم چې د جون د ۲۵ نېټې په مکتوب کې اعلان شوی و چې ښځو ته یې د فعالیت درولو لپاره د جولای د ۲۵ نېټې ضرب الاجل ټاکلی و. هغو سنګارتونونو چې تر ټاکلي ضرب الاجل یې ها خوا فعالیت جاري ساتلی و د برحاله چارواکو د سختو غبرګونونو نښه ګرځیدلي. د مثال په ډول، په یوه ولایت کې، برحاله د استخباراتو د لوی ریاست کارمندانو پر یوه سنګارتون چې په پټه یې فعالیت کاوه، چاپه واچوله، چې ښځینې یې جریمه کړې، د ښځینې ورور یې ونیوه او په فیزیکي ډول یې وځوراوه او د سنګارتون مراجعین یې د سنګار مینځلو ته اړ کړل او دا چې ژمنه وکړي چې په راتلونکې کې به بیا هیڅ سنګارتون ته مراجعه نه کوي.

پر دې سربیره، د جولای پر ۱۹ نېټه د سنګارتونونو شا و خوا ۲۵ ښځینې او د هغوي کارمندان په کابل کې د یوه سوله ییز لاریون په موخه سره راغونډ شوي وو، چې د برحاله امنیتي ځواکونو له خوا د اوبو په پاشلو او اخطاري هوایي ډزو په کارولو په زور سره تیت کړای شول. څلور ښځینه لاریون کوونکې ونیول شوې چې په عین ورځ بیا وروسته خوشې کړای شوې.

## د ښځو د تګ راتګ آزادي

د اګست پر ۲۶ نېټه، په بامیان ولایت کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت برحاله وزیر اعلان وکړ چې د حجاب د حکم د نه مراعاتولو له امله بند امیر ته د ښځو پر تګ بندیز ولګید. د راپورونو له مخې ښځو د بند امیر لیدو ته دوام ورکړی، سره له دې چې مخکې په ټول هیواد کې د پارکونو، جیمونو او عامه حمامونو کارول منع اعلان شوی و.[۳]

د سپتمبر په لومړیو کې، په خوست او زابل ولایتونو کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د لوډسپیکرانو له لارې اعلان وکړ چې له محرم پرته ځایي مارکیټونو او هټیو ته د ښځو تګ بند دی. د دغه سند تر لیکلو پورې ویل کېږي نوموړی امر نافذ دی .

[۱] په دغو تازه معلوماتو کې ټولې مشخصې شوې نېټې ۲۰۲۳ کال ته راجع کیږي، مګر دا چې په بل ډول مشخصې شوې وي.
[۲] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) شمېره پرېکړه لیک، د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) شمېره پرېکړه لیک له خوا تمدید شوی.
[۳] بندیز د ۲۰۲۲ کال د نومبر پر ۱۰ اعلان شوی و: د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت [@MOPVPE], X (پخوانۍ ټویټر پاڼه)، ۱۰ نومبر ۲۰۲۲. پر دغې انټرنټ پاڼه د لاس رسي وړ ده: https://twitter.com/MOPVPE1/status/1590768823971368960

## زده کړو ته د ښځو او نجونو لاس رسی

ښځې او نجونې لا اوس هم له ثانوي او لوړو زده کړو محرومې دي او برحاله چارواکو د موجوده بندیز د بشپړ تطبیق د ډاډمنولو په پار د جولای، اګست او سپتمبر په اوږدو کې مختلف ګامونه پورته کړي.

په جولای کې، برحاله د لوړو زده کړو وزارت اعلان وکړ چې یوازې نارینه زده کوونکي اجازه لري تر څو د کانکور په ازموینه کې ګډون وکړي، چې په پام کې وه یوه میاشت وروسته ترسره شي. د اګست پر ۲۳ نېټه د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې، برحاله پولیسو یوه ډله ښځینه زده کړیالانې دوبۍ ته د زده کړو په پار له سفر څخه له دې امله راوګرځولې څکه چې محرم یې نه درلود. دغه نجونې په هغه پروګرام کې منل شوې وې چې د عرب متحده اماراتو د یوه سوداګر له خوا تمویل شوی و. د راپورونو له مخې، لږ تر لږه څېنو ښځو بیا وروسته وکولای شول دوبۍ ته سفر وکړي.

## د جګړې اړوند مرګ ژوبله

په ۲۰۲۲ کال کې د ورته مودې برعکس، یوناما کم شمېر ولسي مرګ ژوبله مستند کړې، چې تر ډېره د لاس جوړ چاودیدونکو وسیلو په بریدونو کې د پام وړ کموالي له امله ده. د لوي اختر او عاشورا مراسم د کومو سترو بریدونو پرته چې په تیرو کلونو کې لیدل شوي وو، ترسره شول. په نیمروز او ننګرهار کې د پولې په اوږدو کې پېښې د ولسي مرګ ژوبلې لامل شوې. د جولای پر ۱ نېټه په نیمروز کې، د راپورونو له مخې څلور سړي او یوه ښځه د ایراني سرحدي پولیسو له خوا په داسې حال کې په ډزو ووژل شول چې له پولې یې ایران ته د ننوتلو هڅه کوله، او یو بل سړی چې له هغوي سره یې سفر کاوه ژوبل شو. د سپتمبر پر ۶ نېټه په ننګرهار کې، د تورخم پر پوله د برحاله امنیتي ځواکونو او پاکستاني نظامي ځواکونو ترمنځ نښتو پر افغان پوله د څلورو ماشومانو په ګډون اته ولسي وګړي ژوبل کړل.

ده اګست پر ۱۴ نېټه شا و خوا ۱۲:۳۰ بجې په خوست ښار کې سپین جومات ته څېرمه په ملا هوټل کې یوه چاودنه رامنځ ته شوه.

په چاودنه کې پنځه وګړي (یو ولسي وګړی او څلور د تحریک طالبان پاکستان غړي) ووژل شول او لږ تر لږه ۱۸ نور (۱۲ ولسي وګړي، شپږ د تحریک طالبان پاکستان غړي) ژوبل شول. څېنو سرچینو په ډاګه کړه چې دغه برید د بې پیلوټه الوتکې له خوا ترسره شو چې د تحریک طالبان پاکستان هغه جنګیالي یې په نښه کړي چې دغه هوټل ته به یې تګ راتګ کاوه، خو له دې سره سره بیا هم تر دې دمه کوم لوري د برید مسوولیت پر غاړه نه دی اخیستی.

په دغې موده کې ناچاوده توکو د ولسي مرګ ژوبلې مخکښ لامل و چې لږ تر لږه ۲۴ وګړي یې وژلي او لږ تر لږه ۳۸ نور یې ژوبل کړي. د قربانیانو په ډله کې اووه لویان (څلور سړي، درې ښځې) او ۵۳ ماشومان (۴۴ هلکان، نهه نجونې) شامل وو. په یوه پېښه کې، د راکټ یوه سر ګولوله چې په فاریاب کې په یوه استوګنځی کې ساتل شوې وه وروسته له هغې وچاودېده چې یو ماشوم را واخیسته او لوبې یې پرې پیل کړې. په دغې پېښه کې درې ماشومان ووژل شول او درې نور ژوبل شول، چې ټول د یوې کورنۍ غړي وو. د ناچاوده توکو له امله روان زیان په ټول هیواد کې د ماینونو د خطر په اړه د پوهاوي د لوړولو او د ماین پاکۍ د فعالیتونو لپاره چټکه اړتیا په ډاګه کوي.

## د تیر حکومت چارواکي او د امنیتي ځواکونو پخواني غړي

د اګست پر ۲۲ نېټه، یوناما د ۲۰۲۳ کال لپاره د بشري حقونو خپل دربیم موضوعي راپور: د سولې په وړاندې د تامین یو خنډ: د تیر حکومت د چارواکو او د وسله وال ځواک د پخوانیو غړو په وړاندې د بشري حقونو سرغړونې، خپور کړ. راپور موندلې چې سره له دې چې برحاله لوړ پوړو چارواکو په مکرر ډول د هیواد له نیولو وروسته د پخوانیو دولتي چارواکو او د افغان ملی دفاعي او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو د ساتنې لپاره په عامه توګه د عمومي بخښنې په اړه خپله ژمنتیا په ډاګه کوې، د مرتکبینو لپاره له لږ احتساب سره په پراخه کچه سرغړونې ترسره شوې.

یوناما له محاکمې پرته د صحرايي وژنو، شکنجې او ناوړه چلند، خپلسرو نیونو او توقیفونو او د اجباري ورکیدنو لړ تر لږه ۸۰۰ پېښې مستندې کړې چې د برحاله چارواکو له خوا د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ او د ۲۰۲۳ د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ د تیر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو په وړاندې ترسره شوي. راپور د دې سپارښتنه کړې چې برحاله چارواکي دې د "عمومي بخښنې" د بشپړ رعایتولو په موخه د په ډاګه شوې ژمنې لپاره بیړني ګامونه پورته کړي، د دې په یادونې سره چې په دغې چاره کې پاتې راتلل ښايي د هیواد د راتلونکي ټیکاو او په افغانستان کې د پایښدونکې سولې د وړاندوینو لپاره جدي عواقب ولري.

د راپور تر خپریدو وروسته، د بخښنې په تړاو برحاله د رئیس الوزراء مرستیال حنفي وویل چې د غچ اخیستنې هر ډول عمل جرم ګڼل کېږي او مرتکبین به له عدلي تعقیب سره مخ شي. یوناما د دغې موضوع او د راپور د سپارښتنو د تطبیق په اړه له برحاله چارواکو سره خپلې خبرې اترې جاري ساتلې.

## له بندیانو سره چلند او د توقیف شرایط

د سپتمبر پر ۲۰ نېټه، یوناما د ۲۰۲۳ کال لپاره د بشري حقونو خپل څلورم موضوعي راپور: د بشري حقونو درناوی: د باور یو فکتور – په افغانستان کې له بندیانو سره چلند، خپور کړ. راپور موندلې چې د برحاله کورنیو چارو وزارت او برحاله د استخباراتو لوي ریاست په بند کې بندیان په منظم ډول له شکنجې او د ناوړه چلند له نورو شکلونو سره مخ کیږي، د مرتکبینو لپاره د کوم احتساب له شتون پرته زیاتره د نیونو د ترسره کولو او له بندیانو د تحقیقاتو پرمهال پېښیږي. همدارنګه دغه اداري زیاتره له حقوقي او اجرايي تضمینونو لکه د زندان پرمهال د کورنۍ خبرول او مدافع وکیلانو او ډاکټرانو ته د لاس رسي برابرول، څخه په سیستماتیک ډول سرغړونه کوي. دغه سرغړونې د هغو فرمانونو او پالیسي ګانو

چې شکنجه او ناوړه چلند[۴]منع کوي او نور طرز العملي او د عادلانه پروسې حقونه حمایه کوي لکه مدافع وکیل ته د لاس رسي حق،[۵] له خپریدو سره سره پېښیږي.

راپور موندلې چې په هغو توقیف ځایونو کې چې برحاله د زندانونو د چارو د سمون د اداري له خوا اداره کیدل، د ناوړه چلند موارد کم وو او اجرايي تضمینونو ته عمومي درناوی لوړ و. راپور د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي په موخه د یو لړ تدابیرو سپارښتنه کوي او دغه راز پر نړیواله ټولنه له برحاله چارواکو سره له نړیوالو نورمونو او معیارونو سره د تطابق په تړاو د تعامل د ملاتړ غږ کوي.

د راپور تر خپریدو وروسته، برحاله د کورنیو چارو وزارت د وزیر تر دفتر لاندې یوه داخلي کمېټه تشکیل کړې څو د یوناما له خوا پر ګوته شویو موندنو او سپارښتنو غور وکړي. برحاله د زندانونو د چارو د سمون اداري هم په هیواد کې زندانونو ته د یوناما لاس رسی پراخ کړی. یوناما همدارنګه له برحاله ادارو سره د بندیانو د چلند د معیارونو او نورمونو په اړه د پوهاوي لوړولو غونډې په تړاو د بحث په حال کې ده.

د سپتمبر تر نیمه یې پورې په زندانونو کې د بندیانو شمېر له ۱۷۰۰۰ څخه لوړ شوی چې د ۱۰۰۰۰ له هغه اوسط څخه زیاتوالی ګڼل کېږي چې برحاله د زندانونو د چارو د سمون اداري یې د ۲۰۲۲ کال له نیمه یې راهیسې ساتل په پام کې نیولي. دغه کار برحاله د زندانونو د چارو د سمون اداره له جدي ننګونو سره مخ کوي کومه چې د کافي منابعو له نشتون سره مخ ده څو د بندیانو د چلند له حد اقل معیارونو سره تطابق ډاډمن کړي، د کافي خوړو او روغتیايي خدمتونو د برابرولو په ګډون.

[۴] د ۲۰۲۲ کال په جنوري کې، د طالبانو مشر "د بندیانو د نظام د اصلاح طرزالعمل" خپور کړ، کوم چې ګڼ شمېر داسې احکام رانغاړي چې شکنجه او ناوړه چلند منع کوي.
[۵] د ۲۰۲۲ کال په اپریل کې، برحاله عدلیې وزارت "د مدافع وکیلانو توحید شوی طرز العمل" خپور کړ، کوم چې په دې اړه صراحت کوي چې هر شخص د نیونې پرمهال کولی شي یو مدافع وکیل وټاکي چې د تورونو دفاع وکړي یا د هغه یا هغې حق ثابت کړي.

## بدني سزا او د مرګ جزا

برحاله چارواکو په ټول هیواد کې په عام محضر کې د محکوم شویو افرادو او ځینې وختونه د سترو ګروپونو د بدني سزاوو تطبیقول جاري ساتلي. د مثال په ډول، د اګست پر ۱۶ نېټه، ۱۹ افراد (دوه ښځې او ۱۷ سړي) په سرپل کې په یوه سپورتي سټډیوم کې په عام محضر کې په دورو ووهل شول. د سپتمبر پر ۱۷ نېټه په زابل کې، نهه خلک (یوه ښځه او اته سړي) هم په یوه سپورتي سټډیوم کې په عام محضر کې په دورو ووهل شول.

په داسې حال کې چې د مرګ سزا د ترسره کېدو کوم مورد نه دی ثبت شوی، د جولای په وروستیو کې پر خواله رسنیو په بغلان ولایت کې د دوه نو ځوانکیو د سنګسار اوازې خپرې شوې. د یوناما له خوا راغونډېو شویو معلوماتو په ډاګه کړه چې توقیف شوي اشخاص لویان (یوه ښځه او یو سړی) وو، چې د زنا په تور نیول شوي وو او په پلخمري ښار کې د برحاله پولیسو په نظارت خانه کې ساتل شوي وو. کوم اعدام نه دی ترسره شوی او د راپور له مخې قضیه د قضایی سیسټم له لارې پرمخ وړل کیږي.

## خاص اروزګان

د جون او اګست ترمنځ، د اروزګان ولایت په خاص اروزګان ولسوالۍ کې د هزاره ګانو د وژنې او په هزاره توکمه کروندګرو پورې اړوند ملکیتونو او کرنیزو فصلونو د تخریب راپورونه پر ټولنیزو رسنیو خپاره شول. همدارنګه د دې ادعا شوې چې ځايي برحاله امنیتي ځواکونه ښايي په دغو پېښو کې لاس ولري.

یوناما تر دې دمه د جنوري او سپتمبر ترمنځ په نوموړې ولسوالۍ کې راتلونکې سرغړونې تایید کړې:

- د ناپېژاندو مرتکبینو له خوا د خاص اروزګان لږ تر لږه د شپږو هزاره اوسیدونکو وژنې
- د ناپېژانده مرتکبینو له خوا د خاص اروزګان د هزاره اوسېدونکو د موټرو، کورونو او کرنیزو محصولاتو په ګډون د املاکو د ویجاړولو لږ تر لږه پنځه پېښې.
- د ناپېژاندو مرتکبینو له خوا د خاص اروزګان د هزاره اوسیدونکو د وهلو ټکولو لږ تر لږه دوه پېښې.

د سپتمبر پر ۱۶ نېټه د برحاله رئیس الوزراء د دفتر، برحاله د عدلیې وزارت، برحاله د دفاع وزارت او برحاله د استخباراتو د لوي ریاست له استازو یو تشکیل پلاوي خاص اورزګان ته ورسید څو دغه تورونه وڅیړي او په ولسوالۍ کې امنیتي وضعیت و ارزوي. د راپورونو له مخې دغه پلاوي د هزاره وو او پښتنو د ځايي ټولنو له استازو او دغه راز د ولسوالۍ له چارواکو سره خبرې وکړې. د پلاوي تر لیدنې وروسته د سپتمبر پر ۱۹ نېټه، د راپورونو له مخې ۱۶ کسان نیول شوي او د محاکمې په تمه دي.

## د عاشورا پر لمانځنې محدودیتونه

د جولای پر ۱۷ نېټه د برحاله چاروکو ویاند ذبیح الله مجاهد اعلان وکړ چې د عاشورا د لمانځنې لپاره مراسم مذهبي دي چې عمدتا د شیعه مذهبه ټولنې له خوا لمانځل کیږي، د ترسره کیدو اجازه لري، سترې غونډې او دله ییز تګ راتګ د ویرکوونکو د امنیت د ډاډمنولو په پار منع شوي. د دې په تعقیب د مذهبي بیرغونو پر ښکاره کولو (په هلمند او کندهار کې) او په ځانګړو شویو سیمو کې د مراسمو د ترسره کولو د امرونو (په هلمند، کندهار، نیمروز او اروزګان کې) په ګډون، په ځايي کچه محدودیتونه په ځینو ولایتونو کې اعلان شول.

د جولای پر ۲۵ او ۲۶ نېټه، د راپورونو له مخې په کابل کې شیعه مذهبه ویرکوونکي د پخوانیو اعلان شویو امنیتي ترتیباتو د نه مراعتولو په تور د برحاله امنیتي ځواکونو له خوا په څپېړو او لښتو ووهل شول.

د جولای پر ۲۸ نېټه په غزني ښار کې برحاله امنيتي پرسونلو د شيعه مذهبه ويرکوونکو د ټيټولو په موخه ډزې وکړې. د يوه ماشوم او د ښځې په ګډون څوک چې د خپل کور له کړکۍ څخه پرېپه ډزې ووژل وشوې ، څلور وګړي و وژل شول او شپږ نور ژوبل شول. پېښې ته په غبرګون کې، برحاله د والي دفتر د يوه ټويټ په خپرولو سره په ډاګه کړه چې د عاشورا ځينو ويرکوونکو پر برحاله امنيتي ځواکونو ډبرې ګذار کړې او پر هغوی يې ډزې وکړې، چې د مرګ ژوبلې لامل شو. اعلاميې له قربانيانو سره خواخوږي وښووده او په ډاګه يې کړه چې د شيعه مذهبه ټولنې د غړو په ګډون به يوه کميټه تشکيل شي چې دغه پېښه وڅېړي.

## د بشري حقونو د مدافعينو او د رسنيو د کارمندانو خپلسرې نيونې او توقيفونې

برحاله چارواکو د نامعلومو دلايلو له مخې د بشري حقونو د مدافعينو په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو فعالان، او د رسنيو د کارمندانو نيول جاري ساتلي

- د جولای پر ۱۲ نېټه په ننګرهار کې د راډيو ژورناليست عرفان الله بيدار ونيول شو. هغه بيا وروسته د جولای پر ۲۵ نېټه خوشې کړای شو.
- د اګست د ۶ او ۱۹ ترمنځ، برحاله د استخباراتو لوي رياست له خوا ټولټال ۱۱ ژورناليستان نيول شوي. زياتره هغه يې بهرنيو رسنيو ته د معلوماتو پر برابرولو يا د برحاله چارواکو پر ضد پر تبليغ کولو تورن شوي. دغه ټول کسان بيا وروسته خوشې شوي چې د توقيف موده يې له شپږو نيولې تر ۲۲ ورځو پورې وه.
- د اګست پر ۲۰ په کابل ښار کې، برحاله د استخباراتو لوي رياست په يوه کور کې اته ښځينه لاريون کوونکې چې په " افغان ښځو لپاره د يووالي او پيوستون حرکت " پورې تړلې وې، ونيولې. د راپورونو له مخې دوي په راتلونکو لاريونونو کې له ګډون څخه د ډډې کولو د تضمين ليکونو په لاسليک کولو سره تر دريو ساعتونو وروسته خوشې شوې.
- د سپتمبر پر ۱۹ نېټه په کابل ښار کې، برحاله د استخباراتو لوي رياست د " د افغانستان د ښځو د خود جوشه اعتراضيه حرکت "غړې نداپرواني له خپل مېړه او څلور کلن زوی سره يو ځای ونيول شوه (څوک چې بيا وروسته خپلو خپلوانو ته وسپارل شو). د سپتمبر پر ۲۷ نېټه برحاله د استخباراتو لوي رياست د نوموړي حرکت رئيسه ژوليا پارسي له خپل زوي سره يو ځای ونېوله. د دغه سند تر ليکلو پورې، دواړه ښځې او د هغوي نارينه خپلوان په توقيف کې وو.
- د پوهنتون استاد رسول پارسي (د مارچ پر ۶ نيول شوی) او د قلم لار موسسې رئيس مطيع الله ويسا (د مارچ پر ۲۷ نيول شوی)، دواړه په توقيف کې دي, خبريال مرتضى بهبودي (د جنورۍ په ۷مه نيول شوی ) او د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر په ۱۸مه له توقيف څخه خوشې شوی.

## د رسنيو آزادي

د جولای پر ۲۵ نېټه، برحاله د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نارينه او ښځينه ژورناليستانو لپاره د پېژندنې د کارتونو ويش پيل کړ. په داسې حال کې چې دغه کار د راپور ورکونې ساحو او رسنيزو کنفرانسونو ته د ژورناليستانو لاس رسی تسهيلوي، د رسنيو ځينې فعالين بيا په دې باور دي چې دغه کار ښايي د برحاله چارواکو له خوا پر رسنيو فشار او سانسورشيپ لا پسې زيات کړي.

د اګست پر ۱ نېټه د ننګرهار ولايت په جلال آباد ښار کې، برحاله پوليسيو په زور د هميشه بهار راډيو تلويزيون د ژورناليزم د ګډو ټولګيو د درلودو له امله وتړل. برحاله پوليسو همدارنګه دوه نور راډيو ستيشنونه چې په عين ودانۍ کې يې موقعيت درلود په زور وتړل، چې هغه يې له هميشه بهار راډيو تلويزيون سره پر تړاو تورنول. دغو دوه راډيو ستيشنونو ته تر يوې اونۍ او هميشه بهار راډيو تلويزيون ته تر ۲۰ ورځو وروسته بېرته د فعاليت پيلولو اجازه ورکړل شوه.

د اګست پر ۱۲ نېټه، برحاله د اطلاعاتو او کلتور وزارت د رسنيو د سرغړونو د کميسيون يوه ناسته ترسره کړه، چې غړيتوب يې لا پسې پراخ شوی څو له رسنيو لا زيات شمېر استازي په کې شامل شي.

د سپتمبر پر ۱۹ نېټه د نوموړي کمېسيون يوه بله ناسته هم ترسره شوه. ناستې د برحاله چارواکو د هغو پلانونو په اړه خبرې اترې ترسره کړې چې له سياسي ګوندونو سره ترلي رسنيز چېلنونه و ارزوي.

## برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنكر وزارت فعاليتونه

د اګست پر ۷ نېټه، برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنكر وزارت اعلان وکړ چې جادو (تور سحر) منع دی او هغه کسان چې له دغه ممنوعيت څخه سرغړونه کوي محاکمې ته به وړاندې شي. تر اعلان وروسته، د هغو کسانو د نيونې په پېښو کې د پام وړ زياتوالی رامنځ ته شوی چې پر جادو کولو تورن وو.

پر ښځو د برحاله وزارت له خوا د وضع شويو محدوديتونو سربېره (پورته په کارکې د ښځو ګدون او د ښځو د تګ راتګ د آزادۍ برخې وګورئ)، پر موسيقۍ يې عمومي ممنوعيت او د نارينه وو د ږېرې د اوږدوالی او وېښتانو د سټايل څارل يې جاري ساتلي.

د مثال په ډول:

- د جولای پر ۲۷ نېټه په بدخشان ولايت کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنكر رياست او ه ځوان سړي له دې امله چې ږېرې يې خريلې وې، بنديان کړي. دوي تر څو ساعتونو وروسته خوشې شول.
- د سپتمبر پر ۱۰ نېټه په فارياب کې برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنكر رياست د پوهنتون ۲۹ محصلين د هغوي د يوه ټولګيوال د کوژدې په مراسمو کې په ليليه کې د موسيقۍ د غږولو له امله بنديان کړل. د راپورونو له مخې ځينې محصلين په څپېړو وهل شوي او په زور يې سرونه خريلي. ټول يې تر ۱۸ ساعتونو وروسته خوشې شوي.

## عدلي سيستم

د جولای پر ۱۱ نېټه، برحاله عدليې وزارت واک ته د طالبانو له بېرته راتګ راهيسې څلورمه رسمي جريده خپره کړه. څلورمه جريده پنځه فرمانونه لري چې د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت د لوي رياست په ګډون د پنځو برحاله ادارو دندې او تنظيمات وضع کوي، او د برحاله تقنيني اسنادو د نهايي ارزونې د خپلواک کميسيون غړيتوب مشخصوي.

د جولای پر ۲۴ او ۹ نېټه، برحاله د عدليې وزارت د حقوقي مرستې عمومي رياست په کابل د حقوقي پوهاوي د لوړولو ناستې ترسره کړې، په کومو کې چې دوی څرګنده کړه چې په کورنيو قضيو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون يې وزله متهم او تورن کسان حق لري چې د عدلي ارګانونو په وړاندې د خپلو حقونو د دفاع په پار د قانوني مرستې غوښتنه وکړي.